## مطبوعاتي اعلاميه

### په اردن کې د رژیم امنیتي خدمتونو د حزب التحریر له شبابو څخه یو بل غړی هم ونیوه

په اردن کې د رژیم امنیتي خدمتونو د ۲۰۲۱م، د مارچ په ۲۱مه، د یکشنبه په ماښام استاد عادل سرسور له خپل کور څخه ونیوه او بیا یې امنیتي مرکز  ولېږداوه او وروسته یې د استخباراتو مرکز ته وسپاره. دوی څو ځلې هڅه وکړه چې په دوکې سره هغه ونیسي، خو بریالي نه شول بالاخره هغه یې له خپل کور څخه ونیوه.

دا د حیرانتیا خبره نه ده چې په اردن کې رژیم دعوتګر نیسي، ځکه چې دا هغه رژیم دی چې د اسلام د حاکمیت په ویجاړولو کې رامنځ ته شوی دی، د الله سبحانه وتعالی قانون یې ګډوډ کړی، ځان یې د کافر غرب تابع کړی دی او له ذلت ډک تړونونه یې لاسلیک کړي دي، چې وروستی تړون یې له امریکا سره د دفاعي همکاریو تړون و.

پرېږدئ رژیم پوه شي، چې دا نیول به هېڅکله د دعوتګرو د دعوت مخنیوی ونه کړي، ځکه دوی چمتو دي خپل ټول ژوند په همدې لاره کې تېر کړي او دوی له خپل کار څخه هېڅکله نه ستړي کېږي او له هغه چا څخه نه مایوسه کېږي، چې له دوی سره د دښمنۍ په لټه کې دي، تر څو د الله سبحانه و تعالی ژمنه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیری تېینګ شي او الله سبحانه وتعالی خپله ژمنه پوره کوي، چې د مسلمانانو واکمني یعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج راشده خلافت به بیا تاسیس شي.

**﴿وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ﴾** [شعرا: ۲۲۷]

***ژباړه:*** *... او ظالمانو ته به ډېر ژر معلومه شي چې هغوی له څه ډول برخلیک سره مخامخ کېږي.*

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د شعبان ۱۰مه**

**۲۰۲۱م، د مارچ ۲۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱٦/ ۱۴۴۲**